پښتو ژباړه: رحمت آريا ۲۰۲۳/۰۸/۱۵

# د افغانستان سياسي - تأريخي - جغرافيوي ژورنال

## پينځم توک

دوه سوه شپږ پينځوسمه پرله پسي برخه

## کندهار

ايديټ:
ډاکټر لودويګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**ريګستان:** – ۳۱، ۰ – ۶۵ «الف»: دا سيمه د «شګلني سيمې» په معنی ده او د دښتې هغې ستړې برخې ته اطلاق سوې چې د سيستان او فارس له سرحده مخ پر ختيځ راغځيدلې ده. د عامو خلکو په محاوره کې يوازې د «ريګ» په نوم ياديږي. دا د سرو شګو د غونډيو د خط الرأسونو يوه پراخه سيمه ده او د رس له خاوري جوړه له خپلې ګاونډې دښتې څخه د پام وړ لوړوالی لري. دا له ښوراوک سره د مخ پر ځوړ شګو د اوږدې کربښې په وسيلې مماس مومي، او د همدې ولسوالی په شمال کې د خواجه عمران له انتها سره جوختيږي او د کدنې د درې په پای کې شمال لويديځ لور ته د ليندۍ يا قوس په جوړولو د ډورۍ د خوا کربښه نيسي او بيا تر هغو د ترنک خوا نيسي چې ترنک، هلمند ته وروغورځي. هغه غرنۍ لړۍ يا مهميزونه چې سويل لويديځ لورته ځغلي، د اندس له اوب يللونکي يا آب بخشان څخه ټول د دښتې په ژۍ کې پای مومي او يوازې ځو پاتې سوې برخې ئې اخوا ديخوا خورې ورې ښکاري او د ټاپوګانو يا جزايرو په شان د شګو د سمندر له سطحې څخه پورته پاتې سوې دي. په دغو لوړو سطحو کې توري پربښې يا ډبرې دي چې د «سَرَنګ» [1] «غلو يا لوتمارو» په نوم ياديږي چې ډير وړاندې دي او ظاهراً هماغومره ليرې دي چې خواجه عمران او کندهار ته نيږدې د خواجه بلند بابا غر دی.

سره له دې چې ريګستان له ليرې واټن څخه د شګو د غمجنې شاړې بيديا په توګه ښکاري، خو که له نيږدې ئې وګورئ، نو ملاحظات به تاسو ته څرګند کړي چې د ريګستان پولو ته نيږدې په شګلنو غونډيو کې بوټي او واښه په خوارۀ وارۀ ډول شنـۀ کيږي او ان له باران وروسته واښـۀ په کې شنـۀ کيږي. کم عمقو ځايونو کې ئې د رس خاوره ده چې کرهنه په

---

[1] - Sarang

کې کېدای سي او ان په یو شمیر ځایونو کې په مناسبو فصلونو کرهنه کیږي. دا ټوله دښته د «چول» په نوم یادیږي او دا سیمه چې دننه پلو ته له ۵ تر ۱۰ مایلو پورې غځېدلې ده د «نیم چول» یا «نیمه دښتې» په نوم یادیږي. همدا برخه پسونو او د اوښانو پادو ته پووندې برابروي او هغو قبیلو ته چې د دښتې په ګاونډ سیمو کې استوګن دي ځنګې ډېر ارزښت لري او همدغو قبیلو ته په ژمي کې له سړې هوا څخه یو ښـهٔ پناه ځای هم دی. همدا شان دا دښته غریبو طایفو او وحشي غلو او لوټمارانو ته پناه ځای دی چې بل کور او مینه نـهٔ لري. د دوی په منځ کې بې شمیره بلوڅان او براهوي کوچیان هم دي.

دا دښته په خپله تر یوې کچې یوه جغرافیوي معما ده او د دې ارزښت لري چې د اوسنیو ساینسي څېړنو په پرتلې لا نورې پلټنې او څېړنې په کې وسي. د هندوستان له جغرافیوي سروې څخه ښاغلی. سي. ال. ګریسباش. اف. جي. اس لاندنی راپور لري:

"دا له هوایي منشاء څخه پراخ راټول سوي ذخایر دي چې اوس د دې سیمې ډېره پراخه ساحه ئـې نیولې ده چې نـهٔ یوازې د ریګستان، د سیستان او نورې دښتې ئـې پوښلي بلکه د افغانستان په سویل کې پر ډېرو حاصلخیزو دښتو، لکه د هلمند، ارغنداب، کوز خاکریز او د کویټې او کندهار تر منځ پراخې سیمې باندې بریدونه کوي او دا ما ته ډېره په زړه پورې ده. د شګو دغه ذخایر کیدای سي د کوز ډوري او کوز ارغنداب د غاړو په اوږدو کې تر ښې څېړنې لاندې ونیول سي. د وخت او فرصت د محدودیتونو له کبله هغه عوامل ول چې د شګو دغو په زړهٔ پورې ذخایرو ته ئـې زما ژمنه او لیوالتیا هم راللږه کړله. همدومره به په لنډیز ووایم چې هغه سیمه چې د کندهار په سویل او سویل لویدیځ کې واقع ده په هغې کې هر ډول شګې او باد راوړي مواد راټول سوي دي، او په دې کې نرمه او ګڼه سره خاوره ډېره څرګنده ده. زما په باور دا سره خاوره یوازې د « ګج د ګروپ» [2] له سرې ګچ ډوله خاورې څخه ده چې د لمر د تودوخې او توفانونو تر تدریجي اغیزو لاندې راغلې ده او د نرمو خاورو یا د پودرو په بڼه باد راپورته کړې او بل چیرې ئـې غورځولې دي. د نرمو خاورو دغسې ذخایر کیدای سي د ډوري او ارغنداب د سیندونو د اوبو د بهیدلو په سویلي لوریو کې تر څېړنې لاندې ونیول سي څکه همدغو ځایونو کې د دغو موادو مسلسلې څپې جوړیږي.

د دغو سیندونو پراخ بهیر او د هغوی همیشني څواک د خوځندو شګو د دغو کواړیو مخه نیسي یا ئـې ډب کوي؛ خو دغه نرم او پودر سوي مواد د هوا د څپو په وسیلې اخیستل کیږي چې په دې توګه دا مواد د سیندونو مقابلو غاړو ته رسوي او د شګو د توفان په بڼې د هلمند او کویټې تر منځ سیمو باندې د «بعد پلوسیني» [3] دورې د جغلو پر مخ په خوځندو ټوټو ټوټې، ځایونو او په پناه ځایونو کې د ګڼو شګو په ډول راکوزیږي. د کندهار د سویل مفردې غرنی لړۍ دا بڼه په واضح ډول ښیي. دا نرم او پودري مواد چې ټل خپل موقعیتونه بدلوي په تشو ځایونو، د لښتیو تر غاړو، د آهک غاښې لرونکو ګرنګونو په چاودو کې لیدل کیږي. هر فصل کې دا ډول مواد د یو بل پر سر زیاتیږي او داسې وخت به هم راسي چې د کندهار ټوله دره به په همدغو موادو وپوښل سي او سویل کې به ټوله اوسنۍ سیمه په یوې ناپایه دښتې بدله کړي. سره له دې چې دا بدلون تدریجي دی خو څو څو پېړۍ وخت غواړي چې داسې پېښ سي خو په هغه څه چې زه ورباندې ډاډه یم دا به یو وخت هرو مرو پېښیږي.

[2] - Gaj group
[3] - post -pliocene


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

" له پلټنو ښکاري چې د غالب باد په لور کې چې شمال ختيځ لوری دی، او دې لوري کې سيندونه او نوري موانع نـهٔ سته د شګو د پرمختګ اندازه په کال کې يو فيټ ده. په دې چټکوالي سره لږ تر لږه ۲۵۰۰ کاله وخت نيسي چې دا شګې ۱ مايل پر مختګ وکړي او دا هم ناشوني نـهٔ ده چې د دښتې په پولو کې د دغو شګو اوسط پرمختګ دې په يوې پيړۍ کې له ۵۰ تر ۶۰ يارډو ډير وي. څرګنده ده چې د شګو په وسيلې د يوې ځانګړې ولسوالی خوړل او ځيرنه ئـې په زړه پورې ده او کيدای سي د عملي موخو لپاره د شګو دا ډول سوکه پرمختګ له پامه وغورځول سي.

" د ريګ تر ټولو باندني ګرنګونه  د دښتې د سطحې له مخ څخه اکثراً ۱۰۰ فيټه لوړ وي. د شګو په دښتې کې دننه ځو مايله وړاندې د شګو غونډۍ تر ۲۰۰ فيټو پورې لوړيږي او د ملا ميرداد له ځاه وړ هاخوا چې په ښوراوک کې له جټ پوټې څخه ۱۷ مايله ليرې ده د تورن هنل د راپورونو پر بنسټ ۵۰۰ فيټو پورې لوړې سوې دي. د شګو خط الرأسونه له يو بل سره د کنډو کنډو ځپاندو ځايونو په ډول موازي ځغلي چې مخه ئـې په عام ډول له شمال ـ شمال لويديځ څخه مخ پر سويل ـ سويل ختيځ ده. د شګو د غونډيو شمال ختيځه يا د باد پناه خوا ډډې معمولاً د ۴۵ درجو طبيعي زاويه لري په بله وينا تر ډيره دغونډيو سر خوا ته دي او سرونه ئـې معمولاً تيز دي. د باد د خوا ډډې ئـې نسبتاً نرمې دی.  سرو شګو چې د دښتې اکثريت برخه ئـې پوښلې او دښتې ته ئـې عجيب رنګ  وربخښلي دی د رس يا د کرهنې له ډيرې خاورې سره ګډه ده او د رس له هغو خاورو سره ورته والی لري چې نورې دښتې ئـې پوښلې دي. کيدای سي دا دښته په بوټو او وښو کې داسې عناصر پريمانه ولري چې خاورې ته ئـې سور رنګ بخښلی دی. په دې باب په ځانګړې توګه د بوټو د رنګ په هکله يو شمير يادونې د "ښوراوک" په مقالې کې سوې دي او د ريګستان دښته ورسره د افغانستان د نورو ټولو دښتو په پرتلې زښته ډيره نيرډې ده. د دښتې بلې غاړې ته تللې لارې هم ټولې دا ځای سره نښلوي.

"د يادونې وړ ده چې ريګستان د مرکزي عربستان د «نفود» [4] د شګو له دښتې سره ډير ورته والی لري او «بلنت» او نورو سياحانو ئـې شرحه ورکړې ده.

"د کندهار په سويل لويديځ کې دا دښته يو مهم ستراتيژيک موقعيت جوړوي او  هماغسې چې ډيرې باور لري، دا دښته يو قابل نفوذ مانعه ده. د راپورونو او رواياتو پر بنسټ دا به هر ډول ځواک ته ناشوني وي چې رودبار ته نيږدې له هلمند څخه دې، په دې دښتې کې تر کندهار يا پشين پورې نفوذ وکولای سي. هغه بې شمير کوچيان چې له شک پرته خپل ژمی له خپلو رمو او پادو سره په ګډه په ريګ کې تيروي ښکاري چې د دښتې په هغې برخې کې پاتې کيږي چې د ارغنداب او هلمند د سيندونو له غاړو ليرې نـهٔ وي ځکه دا ځايونه ښې پووندې او پريمانه اوبـهٔ لري. دوی ښايي په دې هم خبر وي چې د دښتې په کومو ځايونو کې اوبـهٔ تر لاسه کيدای سي خو د لوی ځواک لپاره هيڅوک دا داډ نـهٔ سي کولای او نـهٔ پوهيږي چې د دښتې په کوم ځای کې به ومونډل سي."

بيلو وايی چې نوموړي د بُست له کلا څخه تر هزار جفت پورې د مارش په لړ کې هغه لاره ونيوله چې د نيم چول په نوم له ځپاندې شګلنې دښتې څخه تيريږي او د دښې د يوې ترانګې يوه برخه ئـې ښه وليدله.

بيلو په دې حيران سو چې زړهٔ ته ئـې نـهٔ لويدله چې د دښتې دا برخې دې يوهٔ تنکې او نری ځنګل پوښلې وي. دلته د بوټو او کوچنيو نيالګيو ډول ډول ښې سته چې د سون توکو په توګه کارول کيدای سي، او نرې وابـهٔ هر چيرې ليدل کيږي چې د سرو ميده شګو او خاورو له منځه غوړيدلې دي. د شين غزې يو ډول دی چې د «توغز» او د «بَرَک» د ولې په نوم

---

[4] - Nefud or sand deserts of Central Arabia


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

یادیږي او عام نیالګي دي. د ولي لرګی د سکرو د ترلاسه کولو لپاره سوځول کیږي چې د توپ د باروتو په تولید کې ورڅخه کار اخیستل کیږي. د مرغښي یا عناب کوچنی «وګورئ لاندې» [5] یو ډول هم لیدل سوی دی خو د دغو بوټو ډیری برخه نـهٔ ده پېژندل سوې. بیلو وړاندې وايي: " زه اوس پوه سوم چي د افغانستان په سویل کي دا دښته ولې په ژمي کې د کوچیاني قبیلو لپاره پناه ځای دی. دا دښته د کندهار د کاسي د بادي بیدیاوو او نورو پراخو دښتو په پرتلې ډول ډول بدای نباتات تولیدوي؛ د دښتي د ځپاندو جوړښتونو تر منځ تشې دغو بوټو ته د ژمي د شدید ځپو پر وړاندې ښـهٔ پناه ځای جوړوي او بوټي نـهٔ سوځوي. «میتلند، بیلو»

همدا شان، بیلو د هغو کوچیانیو قبیلو د کیږدیو د ډلو یا کمپونو شمیرنه هم کوي چي د ارغنداب د سیند د کیڼي غاړې په اوږدو کې له ترنک سره د یو ځای کیدنې تر ټکي، له هلمند سره د یو ځای کیدنې تر ټکي پورې لیدلي دي، دی وايي چي یوازې د شپنو کوچیانو شمیر په آسانۍ سره تر ۴۰۰۰۰ تنو پورې رسیږي. «بیلو، ۱۸۷۱»

د ۱۹۰۲ز کال د وچکالي پر مهال پوونديې له منځه لاړې او کوچیاني قبیلو ونـهٔ سوای کولای چي خپلو څارویو ته خوراک توکي برابر کړي نو له دې کبله دوی له دې سیمې څخه ووتل. «آی. بي. سي. ۱۹۰۴»

**ریګ قلمانه**: ــ ۳۰، ــ ۶۵: د ښوراوک تولي شګلنې برخي ځانګړې نومونه لري. ریګ قلمانه د سید یحیی د سویل په تقریباً ۲ مایلی کي واقع ده او د ځمکي له یوې ترانګې سره جوخته ده چي د «حسابات» په نوم یادیږي. «میتلند»

**ریګوه**: ۲۶ – ۳۱، ۳۱ – ۶۵ «ن»: دا د ترنک پر ښی غاړه د کندهار د سویل لویدیځ په ۱۶ مایلی کي یو کلی دی. «بیسکو»

* **رضا خان کلی**: ۵۱ – ۳۱، ۱۶ – ۶۸ «ن»: دا د زابل او د غزني د ولایتونو تر منځ پولي باندې د «سدوزي کور» [6] د شمال ختیځ په تقریباً ۴ مایلی کي د علي جان ماندې ته نیږدې یو کلی دی.

**رباط**: ۳۶ – ۳۱، ۰ – ۶۶: لوړوالی: ۳۶۲۲ فیټه. دا د کندهار د ختیځ په ۱۹ مایلی کې او له مهمند څخه ۸ مایله لیرې د ترنک د درې د سیند له لارې تر قلات غلزایي پورې د تللي لارې په اوږدو کي یو کلی دی. دلته په څو حالاتو کي برتانوي ځواکونو چي شمیر ئـي د پام وړ وو دمه کړې ده؛ په وروستي ځل چي برتانو ځواک دلته دمه وکړه د ۱۸۸۰ز کال د آګست د میاشتي په ۲۹ نیټه وه چي د جنرال سر اف. رابرټس ځواک د کندهار پر لور روان وو او ټول ځواک ئـي همدلته دمه وکړه. ان د کال په همدې فصل کي اوبـهٔ دلته پریمانه وې، د جنرال ځواک د کلي د شمال ختیځ په نیم مایلی کي دمه سو چي د سیند د اوبو بهیر ښه مست روان وو. د ښناک لپاره دلته ډیرې ښې اوبـهٔ هم سته چي د سیند تر اوبو لا ډیرې ښې دي دا اوبـهٔ کلي ته نیږدې د یوهٔ کاریز دي. د جنرال د ځواک د دوه ورځو د اړتیاو لپاره د اړتیا توکي همدلته له رباط او نورو ګاونډیو کلیو څخه تر لاسه سول. بهوسه هم دلته پریمانه وه خو زرغونه علوفه یا زرغون واښـهٔ کمپ ته نیږدې نـهٔ موندل کیدل نو له دې کبله څو ډلي ولیږل سوې چي د څارویو لپاره زرغون واښـهٔ راټول کړي. د کندهار له ارګ سره اړیکه د هیلوګرافي له لارې د ۸ مستقیمو مایلو په واټن چي د مهمند له لارې ۲۰ مایله کیږي، ټینګه سوه. «آی. بي. سي.» *په دې نوم بل کلی په ۳۷ – ۳۱، ۴۷ – ۶۶ «ج» کي موقعیت لري.*

**رباط**: ــ ۳۲، ــ ۶۵: دا د خاکریز په درې کي یو کلی دی چي د درې په شمال ختیځي انتها کي واقع دی. «لینس» *په دې نوم بل کلی په ۹ – ۳۲، ۲۵ – ۶۵ «ج» کي موقعیت لري.*

---

[5] - jalsolaceoe: ښایي ددغـهٔ لغت په لیکلو کي تایپي تیروتنه سوې وي او په قوامیسو کي ونـهٔ موندل سو - ژ

[6] - Sadozi Kor



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**رباط:** وګورئ: کدني

* **رباطک**: ۴۱ – ۳۳، ۲۸ – ۶۶ «ن»: دا د روزګان په ولایت کې د «پیتاو کوه» په شمال کې په یوۀ تنګی کې یو کلی دی.

**روګني: روغني**: ۸ – ۳۲، ۲۴ – ۶۷ «الف»: دا د «سرخ کوه» [7] د غرنۍ لړۍ له منځه یو کوتل دی چې د قلات غلزایي د ختیځ په تقریباً ۱۸مایلی کې موقعیت لري. دا کوتل د «سپین بند» «تنجي؟» [8] کوتل د سویل په تقریباً ۵ مایلی کې واقع دی او ویل سوي چې ختل ورته سخت دي. «کلیفرډ» په دې نوم بل کلی په ۳۸ – ۳۴، ۴۳ – ۶۶ «ج» کې موقعیت لري.

**روره**: – ۳۱، – ۶۶: دا د خشک رود په درې کې له قلات غلزایي څخه د ارغسان تر سیند پورې د سړک په اوږدو کې له قلات غلزایي څخه ۳۸ مایله لیرې یو کلی دی. «پرایر»

**روز آباد**: وګورئ: روح آباد

**روزه خوارک**: – ۳۱، – ۶۸: دا خضر د ځاه د لویدیځ په تقریباً ۵ مایلی کې د سورځنګل په دښتې کې یو کوچنی غر دی. د غرۀ له پاسه یولسمه ستنه ده چې د هندوستان – افغانستان د سرحد نښه څرګندوي. «بن، آي. بي. سي.»

**روح آباد/روربات**: یا: روز آباد: ۲۷ – ۳۱، ۴۲ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار د سویل په ۹ مایلی کې او د ترنک د سویل په ۲ مایلی کې یو کلی دی. د دې کلي استوګن وګړي ټول بارکزي نصرت زي دي؛ د بیسکو د راپور له مخې په ۱۸۸۰ز کال کې په دې کلي کې ۶۲ کورونه او ۲۱۸ تنه وګړي ول. دوی په کندهار کې په دې شهرت لري چې زښت ډیر مستقل خلک دي. «بیسکو، آی. بي. سي.»

**روڼ خواه**: «رڼ»: ۳۹ – ۳۱، ۱ – ۶۸: دا د «کندار» [9] «کندهار – ژ» په لویدیځ کې په هغۀ ټکي کې یوه غرنی لړی ده چې د «زیږی» «قندیل» [10] سیند ورسره مماس مومي او د همدې سیند په شمال کې واقع دی. د دې لړۍ ډیره لوړه څوکه ۹۱۸۱ فیټه لوړه ده. «بن»

* **روزک**: ۵۴ – ۳۱، ۳۴ – ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د «سیوی» [11] د ختیځ په ۳ مایلی کې د شملزیو د لویدیځ په تقریباً ۶ مایلی کې یو کلی دی.

**سادات**: ۴ – ۳۲، ۳۰ – ۶۵: دا د الکوزیو د څلورو یا پینځو کورونو یو کوچنی کلی دی چې د شاه مقصود د غرنی لړۍ شمال ختیځې انتها ته نیږدې، د اسد کلا د لویدیځ په ۱/۲ ۲ مایلی کې او د حاجي درخت د کوتل په خولـۀ کې چې د لام درې ته لاره ورکوي واقع دی. «لینس»

**سبلغي/ سولغی**: سلبغي: – ۳۱، – ۶۵: دا د پوپلزیو یو کلی دی چې د ارغنداب د سیند له ښې غاړې څخه تقریباً ۲ مایله لیرې د هغـۀ سړک پر غاړې واقع دی چې سیاه چوب له سینجري«سنځري – ژ» سره د عطاء تر کاریز پورې نښلوي. دا ځای د سیاه چوب په پرتلې لوی ویل سوی دی؛ له دې ځایه زیر غوري ترلاسه کیدای سي او غنم او وربشي د سیمي په ګاونډ کې په کافي انداز کرل کیږي. بیسکو دا کلی د قریه جاتو د کلیو په لیست کې یادوي؛ د وګړو او نورو احصائیو په هکله معلومات بیسکو د پشمول له معلوماتو سره ورکړي دي؛ هنل وایي: دا د سبلغي په شان په هماغي ډلې پورې اړه

---

7 - Surkh Koh
8 - Spinband (Tanjai ?) pass
9 - Kundar
10 - Zizha (Kandil)
11 - Seway


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

لري. دا نوم اکثراً د «سه لن غي» په ډول ليکل کيږي او کيداى سي هماغه نوم وي چي په راتلونکي مقالي کي راځي. «آی. بي. سي.»

**سبلکي**: ۳۲ – ۳۱، ۲۰ – ۶۵ «ج»: دا له کندهاره تقريباً ۱۸ مايله ليرې د هرات د سړک پر غاړې د دې سړک او ارغنداب تر منځ چي له «کولک» [12] ځخه دومره ليرې نـهٔ دی يو کلى دی. «بيسکو»

* **سبزک**: دا د روزگان په ولايت کي د «کوهٔ نيلو» په شمال کي د «سمنکه» د سيند پر غاړې يو کلى دی.

**سبزل**: ۵۱ – ۳۱، ۳۱ – ۶۵ «ن»: دا د ۶ کورونو يو کوچنى کلى دی چي د خاکريز په درې کي د پيشي او د بولان د کوتلونو په شمالي مدخل کي واقع دی چي له دې کلي ځخه په تيريدلو همدلته د خاکريز غرنى لړی ورسره ملحقه کيږي. دا کلى د يوې هموارې ځمکي پرمخ د پيشي د کوتل له سر ځخه تقريباً ۴ مايله او د بولان له کوتل ځخه ۲/۱ ۴ مايله ليرې واقع دی، دا کلى تولټال ۱۱ قلبې ځمکه لري چي يوازې يوه قلبه ځمکه ئـې خړوبه ده. د جنرال پليسر د ځواک کتار د ۱۸۷۹ز کال په پسرلي کي دلته څو څو ځله دمه کړې ده. «آی. بي. سي. ، لينس» *اوسنی نقشي د سبزل کاريز نوم ښيي. د سبزل کلي په نوم يو کلى په ۲۷ – ۳۲، ۵ – ۶۶ «ن» کي موقعيت لري.*

**سدني**: يا سودني: – ۳۱ – ۶۶ دا هغه ناله ده چي له ښي لوري له ارغسان سره، د ډوری او ارغسان د يو ځای کيدني له ټکي تقريباً ۳۵ يا ۴۰ مايله پورته يو ځای کيږي. «آی. بي. سي.»

* **سدِکه**: [13]: «صادقه /صَدِيقه هم لوستل کيداى سي – ژ»: دا د کندهار په ولايت کي د غريب غر په سويل کي د سيلسن/ ثالثون د سيند پر غاړه يو کلى دی.

**صادق کلى**: ۴۷ – ۳۱، ۲۴ – ۶۸ «ج»: دا په تيوری کي يو کلى دی چي د لويي کلا په شمال کي واقع دی. د دې کلي استوګن وګړي «شبي خيل تره کي» [14] دي. په دې نوم بل کلى په ۵۹ – ۳۱، ۴ – ۶۸ «ن» کي موقعيت لري.

**صد مرده**: ۳۹ – ۳۲، ۵۸ – ۶۵ «ن»: دا د روزگان په ولايت کي د تيرين د سيند پر غاړه د تيرين کوټ په شمال ختيځ کي يو کلى دی.

**سدوزي**: دا د پوپلزي درانيانو يوه ځانګه ده. د درانيانو د سلسلي لومړني مستقل پادشاهان له همدې قبيلي ځخه ول او له بارکزيو ځخه «اميران» رامنځته سول. د سدوزي پادشاهانو سلسله په دريم نسل کي د انارشي او اړودوړ له يوې دورې وروسته نسکوره سوه. شجره ئـې ضميمه جدول کي تورن مک موهن چمتو کړی دی. *په دې نوم يو کلى د سپن بولدک د لويديځ په تقريباً ۳۶ مايلى کي په ۳ – ۳۱، ۴ – ۶۶ «ج» کي موقعيت لري.*

* **سفيدار**: ۵۵ – ۳۱، ۱۳- ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولايت کي د شينکي د کلي د سويل لويديځ په تقريباً ۱۵ مايلى کي د لوړه له سيند ځخه ۱ مايل ليرې يو کلى دی.

**سگي**: وګورئ: شاه جوی

**سگ زي**: «سک زي - ژ»: «ساکزي – ژ»: ۳۲ – ۳۱، ۹ – ۶۶ «ن»: دا له عطاء محمد ځخه ۲ يا ۴ مايله کوز، د ارغسان د سيند پر ښی غاړه يو کلى دی. د سدني ناله د سگزيو په شمال کي بهيږي. دلته د اړتيا وړ توکي تر لاسه کيداى سي او د

---

[12] - Kulk
[13] -SADIKA
[14] - Shabi Khel Tarakis


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

اوښانو د ځرلو لپاره ځای هم سته. «آی.بي.سي.» په دې نوم نور کلي په ۴۱ ــ ۳۱، ۱۲- ۶۷ «ن» او ۲ ــ ۳۲، ۴۴ ــ ۶۶ «ن» کې موقعیت لري دا نوم د «ساکزي» په ډول هم لیکل کیږي.

**سگ زي**: وګورئ: اسحق زي

* **صاحبان**: ۵۹ ــ ۲۹ ، ۱ ــ ۶۶ «ن»: دا د لوړه د سیند پر غاړه د ښوراوک د ولسوالی په سویل کې د کندهار په ولایت کې د افغان پولي د شمال په تقریباً ۱۴ مایلی کې یو کلی دی. په دې نوم یو بل کلی د لوړه د سیند پر غاړه د عیدو زیو په سویل لویدیځ کې د کندهار په ولایت کې واقع دی.

**صاحب زاده: ــ** ۳۱، ــ ۶۵: دا له زیرک ۲/۱ مایل هاخوا د کندهار د سویل ختیځ په ۹ مایلی کې یو کلی دی. «بیسکو»

**صاحب زاده**: ۵۹ ــ ۲۹ ، ۰ ــ ۶۶: دا د ښوراوک په ولسوالی کې په مندوزیو کې یو کوچنی کلی دی چې د پیر احمد شاه په نوم هم پیژندل کیږي او د لوړه د سیند پر کیڼې غاړې موقعیت لري. دا کلی د «سلات» [15] د غرنی لړۍ په لمن کې د مندوزیو د کلي له سویل ختیځ څخه تقریباً ۴ مایله لیرې موقعیت لري چې له محمد رضاء څخه دومره لیرې نه دی. دا کلی یوازې تقریباً ۱۵ جونګړې او د احمد شاه زیارت لري. کلي کې کرنیزه ځمکه د زیارت ده او خشک آبه ده خو د پیر کورنی، خړوبه ځمکه هم پیرودلي ده. «د دې کلي خلک سیدان نـهٔ دي، دوی فقیران دي. [میتلند ج] »*اوسنی نقشې د صاحبان نوم په دې سیمې کې ښيي. په دې نوم بل کلي په ۹ ــ ۳۱، ۵۸ ــ ۵۶ «ج» کې موقعیت لري.*

**سهل آباد**: یا: سلوات: ۳۱ ــ ۳۱ ، ۳۲ ــ ۶۵ «ن»: دا د کندهار په سویل لویدیځ کې له «چقور» [16] ۵ مایله هاخوا یو کلی دی. «بیسکو»

**سیدان**: ۱۰ ــ ۳۱، ۲۰ ــ ۶۶ «ج»: دا د چمن د شمال - شمال لویدیځ په ۲۰ مایلی کې یو ځای دی، دا ځای په هغـهٔ ټکي کې موقعیت لري چې یو کاریز په کې دی او پریمانه اوبـهٔ لري. له کویټې څخه تر کندهار پورې د بیدک ــ برغانه سړک له همدې ځایه تیریږي. «۱۸۷۹ د جګړو تأریخ» *په دې نوم نور کلي په ۳۷ ــ ۳۱، ۱ ــ ۶۶ «ن» ؛ په ۴۴ ــ ۳۲، ۵۲ ــ ۶۶ «ن» او ۴۰ ۳۳ ، ۲ ــ ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.*

**سید بوس: یا: سید بس**: ۵۱ ــ ۲۹، ۵۱ ــ ۶۵ «ن»: دا یو زیارت دی او یوه منفرده ونه او دوه کلي لري چې د ښوراوک په سویل لویدیځ ګوټ کې واقع دی او که تاسو له نوشکي څخه دې ولسوالی ته ننوځئ نو له هماغي خوا دا ځای د ښوراوک د ولسوالۍ وروستی ځای دی چې خلک په کې استوګن دي. د «آذرغ شاه» [17] زیارت په نوشکي کې د رحمن د کلا د شمال ــ شمال ختیځ په ۱۷ مایلی کې د سویل ــ سویل ختیځ په تقریباً ۱۹ مایلی کې موقعیت لري. زیارت ته نیږدې د اوبو لپاره یوه په لاس جوړه سوې زیرمه هم سته او سویل لویدیځ لور ته لږ واټن وړاندې یو څو کلي دي چې څو سوه یارډه له یو بله جلا دي. ختیځ خواته کلی ئـې لوی کلی دی. دا کلی یو منفرد کلی دی چې د شګو پر یوهٔ خط الرأس واقع او هر کله چې باد ډیر وي شګې خپل موقعیت هم بدلوي. دلته ټولټال د «بادرزیو» (بهادر زیو- ژ) [ د زکوزي بریځو ] ۵۰ یا ۶۰ جونګړې دي. د اوبو زیرمه په دوبي کې وچیږي خو شمال لویدیځ لور ته ۱۰۰۰ یارده وړاندې د دښتي د شګو د ګړنګونو پر لور ځلور ځاهان سته او ویل کیږي چې ۳۰ فیټه ژوري دي او ټول کال اوبـهٔ لري. د دې ځای ښه دوې ونې دي او دا د دیخوا

---

15 - Salat range
16 - Chikor
17 - ziarat of Azargh Shah


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

د سترګو په منظر کي له زيارت او ونې ئې په استثناء يوازينى ونې دي. د سيد بت ځمکه خشک آبه ده او د کرل سوي ځمکي پراخوالى هم روښانـهٔ نـهٔ دی؛ د کلي په شاو خوا کې لړ کرهنه ليدل کيږي، خو شمال لور ته لاري باندې يو شمير ځمکې کرل سوي دي او سويل لور ته ۵ يا ۶ مايله ليري د ښوراوک د ولسوالى له پولي پورته يو شمير ځمکي دي چې د «پاړي» او «بلندوالا» په نومونو يادیږي؛ خو د بلند والا ځمکي د نوشکي د خلکو ځمکي دي. د سيد بت بهادر زي په ترانسپورتي چارو کې په نقل او انتقالاتو کې بوخت دي چې په کرهني کې دومره بوخت نـهٔ دي. دوی ډېر اوښان او هم د پسونو رمي لري. د ګرمسيل له بريخو سره چې د دوی په شان د زکوزيو له قبيلي څخه دي د سيد بت وګړي په دائمي اړيکه او راکړه ورکړه کې دي.

د کليو شمال ته تقريباً ۲ مايله ليري يوه کنډواله کلا ده، دا د «پيروش خان»[18] کلا ده. په همدې لور لړ وړاندې د شګو لوړې غونډۍ دي چې د «ريګ خار» په نوم يادیږي. دا غونډۍ او ورلاندې نوري تيټې د شګو غونډۍ چې لاره ئـې له منځه تيريږي د ۱۸۷۹ز کال د مې په ۲۷ نيټې د راتولو سويو بريڅانو د جګړن همفري د ځواک تر منځ د نښتې ډګر وو، جګړن همفري او ځواک ئـې د سياسي چارو د افسر ښاغلي دوک د امنيت لپاره بدرګه وو.

داسي ښکاري چې دا نښته يوه له هغو جګړو څخه وه چې زموږ سرتيرو د لومړي ځل لپاره دومره ځواک ته چې شمير ئـې لس ځله زيات وو بشپړه ماته ورکړه. څرګنده ده چې د بريڅي جنګياليو په شمير کې مبالغه نـهٔ ده سوې او د څلور يا پينځو سوه بله ډله ئـې له دې ځايه په لنډ واټن کې وه. بريڅانو کله چې د خپل ځواک د اصلي بدنې درې ورې کيدل وليدل نور تيت سول. سره له دې چې د بريڅانو قبيله مهاجمه قبيله نـهٔ ده خو په خپلې ميړاني او زړورتيا کي شهرت لري او د فزيکي جوړښت له اړخه پياوړي خلک دي. په ټوله کې ټول تحسينات او ستاينې زموږ د سرتيرو د زړورتيا دي. «ميټلند» *په دې نوم يو کلی په ۵۰ – ۲۹، ۵۰ – ۶۵ «ج» کې او په دې نوم يو ځای په ۴۹ – ۲۹، ۴۸ – ۶۵ «ج» کې موقعيت لري.*

**سيد محمد:** – ۳۱، – ۶۵: دا د کندهار د سويل لويديځ په ۲۵ مايلۍ کې د «بابل کاريز»[19] ته نيږدې يو کلی دی. «آی. بي.سي.»

**نور بيا**

**سيد محمد شاه:** يا...

**يادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لينک لاندې د ښاغلی آريا صاحب په آرشيف کی د لمړی ټوک، دويم ټوک، دريم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

[18] - Pirosh Khan
[19] - Babul Karez


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکي په ځير و لولـئ